مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې دریمه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۳مه | دویم کال|۳۲۳مه ګڼه

# عبدالسلام ضعیف: افغان چارواکي باید د موقت حکومت په ګډون د سولې لپاره هرې قربانۍ ته تیار وي




۳

## کتاب

۴ مخ

### پردی




په ټوله کې دا ناول د یوه روحي حالت تصور انځوروي چې دغه حالت ته په ټولنپوهنه کې انومي وايي. انومي هغه حالت دی چې انسان پکې د پردیوالي احساس کوي او هېڅکله له ټولنې سره خپل احساسات نه شي شریکولای.

## کابل کې د کرنیزو محصولاتو د پروسس یو مرکز پرانیستل شو



د کابل ولایت په شکر درې ولسوالۍ کې د کرنیزو محصولاتو د پروسس او بسته بندۍ د یو مرکز چارې بشپړې او یاد مرکز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. دغه مرکز د ۷ میلیونو او ۴۰۰ زره افغانیو په لګښت جوړ شوی دی چې د ۴۰ متریک ټنو کرنیزو محصولاتو د پروسس وړتیا لري.

همدا راز یاد مرکز په یوه اونۍ کې د ۶۰۰ کیلوګرامه تازه مېوو د وچولو وړتیا هم لري. د یاد مرکز په جوړېدو سره د شکر درې ولسوالۍ بزګران خوښي ښيي او وايي، که یې محصولات وساتل شي او په وخت ورته ښه بازار پیدا شي، نه یوازې دا چې له دې سره به د دوی ستونزې کمې شي، بلکې محصولات به یې هم ورسره زیات شي چې تر ډېره به د هېوادوالو اړتیاوې پوره کړي.

## د قطر په وروستۍ غونډه کې اختلافي موارد

۲ مخ

## امریکا دې تېروتنه نه کوي

۲ مخ

## بهر ته له سفر مخکې دغه ټکي په پام کې ونیسئ

۵ مخ

### د ډیورنډ فرضي کرښې په اړه؛

## امریکایي سناتور غیر مسوولانه څرګندونې کړې دي

امریکایي سناتور لینډسي ګراهم پر ډیورنډ فرضي کرښه د پاکستان له لوري د اغزن تار د لګولو ستاینه کړې. لینډسي ګراهم پاکستان ته په خپل وروستي سفر کې د دغه هېواد له چارواکو سره د لیدنې پرمهال ویلي چې د پاکستان پوځ په اتلسو میاشتو کې هغه ستر کار کړی، چې امریکا یې په تېرو اتلسو کلونو کې د ترسره کېدو هیله درلوده. د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، ګراهم ویلي چې د پاکستان له لوري پر ډیورند کرښه د کټارو لګول یو مثبت اقدام دی. دا لومړی ځل نه دی چې امریکایي سناتوران د یوې غیر رسمي کرښې په اړه دغه ډول څرګندونې کوي؛ بلکې تر دې وړاندې هم ځینو سناتورانو او ځینو امریکایي چارواکو د ډیورنډ فرضي کرښې په اړه دغه ډول څرګندونې کړې وې او پر یاده کرښه یې د اقداماتو غوښتنه کړې وه. ډیورنډ د افغانستان او پاکستان ترمنځ غیر رسمي او فرضي پوله ده چې هېڅ افغان یې په رسمیت نه پېژني، خو پاکستان په دې وروستیو کې پر دغه کرښه اغزن سیم لګول پیل کړي دي او د رسمي پولې په څېر نظامي تاسیسات ورباندې جوړوي. افغان حکومت که څه هم د پاکستاني پوځ دغه کار غندلی دی، خو په دې اړه یې جدي او د اړتیا وړ غبرګون نه دی ښودلی.

## د ابوظبي د ناستې ځینو طالب استازو د قطر په ناسته کې ګډون نه درلود



۳ مخ

## عبدالله: طالبان خواهان امارت اسلامی استند



عبدالله عبدالله، رئیس اجرائیه کشور گفته است که طالبان خواهان امارت اسلامی استند.

آقای عبدالله که در نشست اقتصاد جهانی در سویس سخن می زد، گفت که طالبان می پندارند نظامی را که آنان می خواهند مردم نیز می خواهند درحالی که چنین نیست.

او بزرگترین مانع را در برابر صلح، انکار طالبان ازگفت‌وگو با حکومت یاد کرد.

رئیس اجرائیه کشور در نشست اقتصادی جهانی در داووس سویس شرکت کرد.

آقای عبدالله در گفتمانی درباره صلح از ایجاد تغییرات فراوان درهژده سال گذشته در زنده گی مردم سخن گفت اما ازدست رفتن برخی ازفرصت‌ها را نیز پذیرفت.

عبدالله گفته است: «مانع اصلی این است که طالبان چندین بار نشست رو در رو با حکومت افغانستان را رد کرده اند. ما می‌گویم به شمول خروج نیروهای امریکایی وناتو وشیوه حکومت داری گفت‌وگو نماییم اما آنان می گویند درباره خروج با امریکاییان گفت‌وگو می کنیم.»

عبدالله گفته است که مردم هیچ گاهی از دستاوردهای یک ونیم دهه گذشته به عقب نخواهند رفت وامارت طالبان را نخواهند پذیرفت. در این گفتمان معاون نخست وزیر قطر با اشاره به گفت‌وگوهای دو روز گذشته طالبان با نماینده گان امریکا در قطر از کمک به روند صلح افغانستان سخن گفت.

خالد العطیه معاون نخست وزیر قطر گفته است:« به بحران‌های دیگری که قطر در حال رسیده گی است یکی هم بحران افغانستان است».



دریـځ

## د قطر په وروستۍ غونډه کې اختلافي موارد

د افغان سولې په تړاو په قطر کې دویمه ورځ هم غونډه وشوه. په دې غونډه کې د شېرمحمد عباس ستانکزي په مشرۍ د طالبانو اته کسیز پلاوي، د خلیلزاد په مشرۍ له ۱۱ کسیز پلاوي سره خبرې وکړې. په دغو دوو ورځنیو غونډو کې نور مسایل هم مطرح شول، خو د خبرو تمرکز د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر څرنگوالي و. په غونډه کې پر دې هم خبرې وشوې چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به دا هېواد د امریکا یا بل چا پر ضد نه کارول کېږي. امریکایي لوري بیا د اوربند غوښتنه هم کړې، خو طالبانو دا چاره هم د ځواکونو له وتلو سره تړلې گڼلې ده.

د امریکا او طالبانو ترمنځ لا هم دا بحث وروستی شوی نه دی، خو پرمختگونه پکې شوي دي. د دواړو لورو له اړخه د ځواکونو د وتلو پر څرنگوالي اختلاف دی. امریکایي لوری غواړي چې د دغو وتلو لپاره اوږد او مشروط پلان جوړ کړي، خو طالبان ټینگار کوي چې دا ځواکونه باید په لنډ وخت کې د یو مهالوېش له مخې ووځي. امریکایي لوری ټینگار کوي چې افغانستان ته د سولې تر راگرځېدلو وروسته به چې کله دوی ډاډمن شي چې نور افغانستان خوندي دی، خپل ځواکونه وباسي، خو تر هغو پورې به یې ځواکونه کم شوي وي. طالبان بیا وایي چې د افغانستان د خوندیتوب ډاډ ورکوو، نو ځواکونه باید د سولې له توافق سره سم له افغانستان څخه ووځي. په دې برخه کې بل بحث دا دی چې افغانستان به بیا د امریکا او د امریکا د متحدینو پر ضد نه کارول کېږي. طالبان وایي چې دوی د سیمې او نړۍ ستر هېواد یا هېوادونه په دې چاره کې ښکېلوي او هغوی به تضمین ورکړي چې افغانستان به د چا پر ضد نه کارېږي. امریکایي لوری بیا پر دې ټینگار کوي چې د دې هر څه نظارت به خپله دوی کوي او د همدې لپاره د ځواکونو مشروط او محدود پاتې کېدل اړین دي.

په داسې حال کې چې د امریکا او طالبانو لانجه لا حل نه ده، حکومت ټینگار کوي چې طالبان باید له دوی سره کېني. د سولې عالي شورا بیا وایي چې که دوی پکې نه وي، دا خبرې بې گټې دي او باید ډېر دوام ونه کړي. حکومت یو ځل بیا تېروتنه کوي. د دوی له ټینگار سره سره طالبان حاضر نه دي چې ورسره وگوري، نو پکار ده حکومت خپل دریځ بدل کړي. د حکومت معقول دریځ به دا وي چې طالبان او امریکا د ځواکونو د وتلو په تړاو تر توافق پورې پرېږدي او له هغه وروسته د حکومت او طالبانو د خبرو بحث مطرح کړي. اوس له وخت وړاندې ده چې دا خبرې وشي، ځکه له یوه اړخه طالبان حاضر نه دي چې له حکومت سره کېني او له بله اړخه د ځواکونو وتل او څرنگوالي یې د امریکا د صلاحیتونو بحث دی، نو ځکه له هغوی سره باید په دې تړاو خبرې وشي. له همدې امله حکومت باید د دغو خبرو مخالفت ونه کړي، خو باید ټینگار وکړي چې دا خبرې دې د ځواکونو پر وتلو متمرکزې وي. له دې ور هاخوا د افغانستان راتلونکی، د حکومت ډول، اساسي قانون او نور مسایل باید د افغانانو په خپلمنځي خبرو کې حل شي او توافق پرې وشي.

# امریکا دې تېروتنه نه کوي

لیکنه: ملا عبدالسلام ضعیف

په ۱۹۸۸ ز کال کې کله چې شوروي اتحاد پرېکړه وکړه چې له افغانستانه ووځي، هغه وخت کې ۶+۲ (شپږ گاونډي او دوه امریکا او شوروي اتحاد) هېوادونه په ژینو کې سره را غونډ شول او د افغانستان په مورد یې له شورویانو اعتراف واخیست او یو مهالوېش یې اعلان کړ چې ووځي، خو په هغو خبرو کې نه افغانستان په نظر کې ونیول شو، نه د افغانستان ابادي او نه هم د افغانستان راتلونکي ته پام وشو. پایله دا شوه چې د جنگ مخه ونه نیول شوه؛ بلکې کورنی جنگ پیل شو او افغانستان پکې تباه شو چې تر اوسه یې موږ ناوړه اغېز او نتیجه وینو.

اوس هم امریکایان په ورته شکل غواړي په افغانستان کې هماغه تېروتنه تکرار کړي، دوی غواړي چې گاونډي او هغه هېوادونه چې د ۱۹۸۸ ز کال په قضیه کې دخیل وو، هغوی بیا دخیل کړي او د افغانستان په سرنوشت کې هغوی ته هم ونډه ورکړي.

خو دغه ډول سیاسي معادله چې یو ځل ترسره شوې ده، بیا تکرار یې ناممکن دی، نه گټه رسوي او نه د افغانستان موضوع حل کولای شي. په دې وروستیو کې چې امریکا له طالبانو سره د سولې خبرې پیل کړې دي، درې تېروتنې یې وکړې:

لومړی- د ابوظبي غونډه کې یې نور هېوادونه د افغانستان په سرنوشت کې را شریک کړل چې دا د طالبانو لپاره هم یوه اشتباه وه چې باید په همدې بسنه وکړي او بیا دا ډول اشتباه تکرار نه شي او که په دې لاره کې پر دوی هر څومره فشارونه راځي هم، باید لوی هدف ته د رسېدو په خاطر یې وزغمي.

دویمه- د دغه مجلس اجنډا چې له مخکې نه په ډسمبر کې په قطر کې موافقه وربانـدې شوې وه چې د امریکایانو د وتلو مهالوېش او اوربند خبره به څېړل کېږي، له هغې اجنډا څخه امریکایان بلې خواته ولاړل او د افغان حکومت گډون او نور موضوعات یې ور شامل کړل.

درېیمه- دوی دا تېر اوولس کاله په افغانستان کې جنگ کړی دی، پر طالبانو یې هېڅ نوعه رحم نه دی کړی، د زور، فشار، بندي کولو او د توهین هرڅه یې وکارول ان تر فتواوو پورې؛ خو دا هرڅه یې بې نتیجې وو، اوس خلیلزاد چې دنده یې سوله راوستل دي، غواړي بېرته هماغه مسیر تعقیب کړي کوم چې اوولس کاله یې تجربه کړی دی او هېڅ نتیجه یې نه ده ورکړې، غواړي د فشار په مټ طالبان یو څه ته راولي، چې دا کار د سولې لپاره د دوی په نیت کې شکونه را پیدا کوي، د څو عواملو له امله دا کار گټه نه لري:

لومړی- د افغانستان په سرنوشت کې د نورو هېوادونو دخیل کول ناکامه طریقه ده؛ ځکه چې د افغانستان موقف دومره قوي نه دی چې د دغو هېوادونو رقابت ته په پام سره خپلې گټې خوندي کړي؛ بلکې د هغوی د گټو او اهدافو ښکار کېږي.

دویم- طالبان او په مجموع کې ټول افغانان د هغه څه تکرارېدل نه غواړي چې په ۱۹۸۸ ز کال کې وشول.

درېیم- دا کار د طالبانو ترمنځ مشکلات پیدا کوي او طالبانو ته د خپل صف اتحاد او اتفاق تر ټولو مهم دی.

څلورم- که په دې پروسه کې د سیمې ځینې هېوادونه دخیل کړل شي، ځینې نور هېوادونه له هغو سره حساسیت پیدا کوي؛ نو مجبور دي چې بیا هغوی هم دخیل کړي او که ځینې گاونډیان را دخیلوي، بیا مجبوره دي چې ټول گاونډیان را دخیل کړي، د ټولو هېوادونو په را دخیل کولو کې بیا د افغانستان مقام کمزوری دی او بیا ستونزه د افغانانو له لاسه وځي او نورو لاسونو ته لوېږي.

امریکا د طالبانو مقابل کې ډول ډول فشارونه کارولي او کاروي یې، همدا اوس د نورو فشارونو ترڅنگ؛ انتخابات د امریکا یوه بله پر طالبانو د فشار وسیله ده چې دوی یې کاروي، تبلیغات ورته کوي چې انتخابات کېږي او دا دې نوملیکنه هم ورته وشوه.

فکر کېږي لکه پخوا چې طالبان د امریکا هر ډول فشارونو ته کلک درېدلي دي، له دې وروسته به هم طالبان د امریکا د فشار هرې طریقې ته کلکه اوږه ورکړي او په کومه برخه کې به د امریکا فشار ونه مني، که طالبانو پخوا یا اوس تېروتنه کوي، د کوم فشار تر تاثیر لاندې راځي، بیا به مجبوره وي چې د فشار په مقایسه کې څو برابره درنه بیه پرې کړي.

نو بناً څه چې په سیاسي لحاظ خلیلزاد تکراروي او یا به د امریکایانو تگلاره همدا وي، نو دا د سولې لاره نه؛ بلکې دا یو سازش دی چې دوی یې په مخه وړي او نتیجه نه ورکوي؛ ځکه چې دوی اوولس کاله همدا سازشي طریقې استعمال کړې، خو کومه گټه یې ورته ونه کړه.

حللاره:

د موضوع حل داسې را وتلای شي چې امریکایانو د طالبانو نظام له منځه وړی دی، تر دوه لکه ډېر طالبان او افغانان یې په شهادت رسولي دي او تر دوه لکه زیات یې په زندانونو کې توهین کړي، تعذیب کړي چې تر اوسه هم ځینې په گوانتانامو او ډېر یې په افغانستان کې د دوی په زندانونو کې بندیان دي، دوی یې له ټولو حقوقو څخه محروم کړي، دنیا ته یې د تروریستانو په نوم معرفي کړي دي، د دوی سیاسي او اقتصادي ارزښت یې له منځه وړی یا یې داغداره کړی دی، نو د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د بې باورۍ یوه لویه فاصله موجوده ده او د دوی ترمنځ یو لوی حساب پروت دی.

ښه به دا وي چې دا حساب تصفیه شي او د دوی ترمنځ د اعتماد یوه فضا را منځته شي او طالبان په دې مطمئن شي چې امریکایان له افغانستانه وځي او بیا وروسته هم د پیسو یا زور یا بل څه له لارې د افغانستان په چارو کې مداخله نه کوي او په مستقبل کې پر افغانانو یوه تحمیلي اداره نه غواړي او له سولې وروسته بیا جنگ ته لمن نه وهي او د افغانستان مستقبل په سوله او ثبات کې راځي. که دا موضوعات له طالبانو سره مطرح او نهایي شي او له دې وروسته بین الافغاني ډیالوگ پیل شي او هېچا ته اجازه ورنه کړل شي چې د افغانستان په سرنوشت کې مداخله وکړي، نور افغانان په خپل منځ کې سره کېني او د هېواد په راتلونکي، د هغه په اقتصاد، د حکومت او نظام پر جوړښت، اساسي قانون، د حکومت پر نوعیت او نورو اساسي اصلاحاتو فکر وکړي او اتفاق ته ورسېږي. بین المللي ټولنه یوازې د گاونډیانو عدم مداخله تضمین کړي او د افغانانو د پرېکړو ملاتړ وکړي.

لومړۍ مرحله- د امریکا او طالبانو تر منځ مخامخ خبرې وشي او تر یو معین وخت پورې انتخابات په تعلیق کې ولوېږي.

دویمه مرحله- کله چې د امریکا او طالبانو ترمنځ توافقات وشول، بیا بین الافغاني مذاکرات پیل او ټول افغان طرفونه به پکې برخه لري.

همدا د افغانستان لپاره تر ټولو ښه لاره ده چې بیا کولای شي نړیوالو ته تضمین ورکړي چې بیا به افغانستان د دوی پر ضد نه کارول کېږي.

نو که امریکایان غواړي همدغه یې لاره ده او که په سازش، دسیسو او زور باندې څه غواړي، دا نتیجه نه لري، هغه د جنگ برخه ده او که دوی بیا هم دا خبرې کوي، معنا یې دا ده چې دوی لا هم د جنگ ستراتېژي یوې ډیپلوماټیکې او سیاسي ستراتېژۍ ته کاملاً نه ده تغیر کړې.

## د بشري حقونو کمېسیون: تېر کال په سوېل ختیځ زون کې ۴۵۷ ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده

په سوېل ختیځ زون کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي چې تېر زېږدیز کال په پکتیا، پکتیکا، خوست او لوگر ولایتونو کې د ښځو او ماشومانو په گډون ۴۵۷ ملکي وگړي وژل شوي او ټپیان شوي دي.

د دوی په خبره، یاد تلفات په بېلابېلو پېښو کې رامنځته شوي چې مالي زیانونه هم خلکو ته پکې اوښتي دي.

په سوېل ختیځ کې د بشري حقونو د سیمه ییز کمېسیون مشر نوراحمد شهیم د سلواغې په دویمه، پژواک خبري اژانس ته ویلي چې دغه ځاني تلفات د افغان او بهرنیو ځواکونو او وسله والو طالبانو له خوا په عملیاتو او بمي چاودنو کې اوښتي دي.

شهیم ویلي چې په دغو زیانونو کې زیاته برخه د وسله والو طالبانو له خوا په گڼ مېشتو ملکي ځایونو کې د ځانمرگو بریدونو، د سړک غاړې ماینونو او د خلکو له کورونو د نظامي استفادې پر مهال اوښتې ده.

هغه ویلي: «تېر کال مو د زون په سطحه ۴۵۷ کسان مرگ او ژوبله لرله. په دې کې نارینه، ښځینه او ماشومان دي چې د تشویش وړ خبره ده. د تلفاتو عاملین اکثره د دولت وسله وال مخالفین دي.»

بلخوا عامو وگړو له دولت او وسله والو طالبانو غوښتي چې د نظامي عملیاتو او جگړو پر مهال دې د خلکو د ژوند او مال خوندیتوب ته پام وکړي.

د گردېز اړوند د زاهو سیمې اوسېدونکی محمدموسی مصطفی ویلي چې دولت دې د هوایي او ځمکنیو عملیاتو پر مهال له پوره دقته کار واخلي او وسله وال طالبان دې هم د خلکو کورونه د سنگر په توگه نه کاروي.



دغه راز د پکتیا د ولایتي شورا غړي محمدرحمن قادري په دې تړاو ویلي، چې په پکتیا کې په وروستیو کې د ملکي خلکو تلفات زیات شوي او دا د امنیتي ارگانونو ترمنځ د نه همغږۍ او دقیقو استخباراتي معلوماتو د نشتوالي له امله بولي.

قادري د جگړې له ښکېلو غاړو جدي غوښتنه کوي چې د جگړې پر مهال د ملکي خلکو د سر او مال خوندیتوب ته جدي پام وکړي.

دغه راز د پکتیا مرستیال والي عبدالولي سهي ویلي چې د خلکو د ساتونکو په توگه د ملکیانو د ژوند او مال خوندیتوب د افغان امنیتي ځواکونو د هر ډول عملیاتو لومړیتوب دی او تر ممکنه بریده یې نه یوازې خلکو ته زیان نه دی اړولی، بلکې له زیانونو یې ژغورلي هم دي.

خو د وسله والو طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد دا خبر رد کړی چې گواکې زیاته ملکي، مرگ ژوبله دې د دوی له خوا اوښتې وي.

مجاهد د بشري بنسټونو ورته راپورونه هم یو طرفه بللي او ویلي یې دي چې زیاته ملکي مرگ ژوبله د بهرنیو ځواکونو په عملیاتو او بمباریو کې اوښتېده.

دا په داسې حال کې ده چې د دغه زون په ملکي تلفاتو کې د ورم کال په پرتله شاوخوا ۵۰ سلنه کموالی راغلی او په ۲۰۱۷ ز کال کې دا شمېره کابو ۸۵۰ تنه وه.

# عبدالسلام ضعیف: افغان چارواکي باید د موقت حکومت په گډون د سولې لپاره هرې قربانۍ ته تیار وي



سوله د افغانانو غوښتنه ده او د دې هیلې لپاره باید حکومت هر ډول قربانیو ته چمتو وي. پخواني طالب چارواکي ویلي، طالبانو تر اوسه له امریکا سره د موقت حکومت په اړه خبرې نه دي کړې، خو که افغانستان ته سوله د موقت حکومت په گډون په هر ډول قربانۍ راځي؛ افغان حکومت باید ورته تیار وي.
ولسمشر محمد اشرف غني بیا درې ورځې وړاندې په یوه وینا کې وویل، چې د سولې پلویان دي، خو د موقت حکومت پلویتوب نه کوي. د ده په خبره، موقت حکومت چې د هر چا طرحه ده، افغانانو ته د منلو وړ نه ده او هېڅ وخت به د دې طرحې غوښتونکي خپلو هیلو ته ونه رسېږي.
بلخوا بیا په پاکستان کې د طالبانو پخواني سفیر مولوي عبدالسلام ضعیف له کابل نیوز سره په یوه ځانگړې مرکه کې ویلي، په افغانستان کې سوله تر هرڅه مهمه ده او افغان حکومت ته پکار ده چې دې هیلې ته په رسېدو کې د افغانانو د لارې خنډ نه شي. د ده په خبره، د ولسمشر غني په گډون ټول افغان چارواکي باید د موقت حکومت ترځنگ هر ډول قربانۍ ته تیار وي. د نوموړي په خبره، سوله قرباني غواړي او رښتینې سوله د ټولو افغانانو په گټه ده.
هغه زیاته کړې: «طالبان د موقتې ادارې په اړه له امریکا سره خبرې نه کوي، ځکه دا مسئلې باید له افغان حکومت سره مطرح شي، خو که سوله په موقت حکومت پورې مشروطه شي، نو باید افغان چارواکي موقت حکومت ته تیار شي. افغان چارواکو ته پکار ده چې تر خپلو واکونو سولې ته لومړیتوب ورکړي.»
ښاغلي ضعیف ویلي، امریکا په افغانستان کې له جگړې ستړې شوې ده او د افغانستان مسئله که هر ډول کېږي، امریکایان له افغانستان وځي، خو ښه به دا وي چې افغانان له فرصته استفاده وکړي او د خبرو لپاره د مذاکراتو مېز ته کېني. د ده په خبره، که داسې و نه شي، نو د امریکایانو تر وتلو وروسته ښایي د ستونزو او بحران یو نوی پړاو پیل شي.
سلام ضعیف داسې مهال دغه څرگندونې کړې چې تېره ورځ هم د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې په اړه خبرې وشوې.
سرچینې وایي چې په دغو خبرو کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو پر وتلو، د گاونډیانو پر ضد د افغان خاورې د نه کارولو، د طالب بندیانو د خوشي کولو، د اوږدمهاله اوربند پر رامنځته کېدلو او همدا راز له سولې وروسته په افغانستان کې د ثبات پر راوستلو بحثونه شوي دي. طالبانو او یا هم امریکا تر اوسه رسماً په دې اړه څه نه دي ویلي.
بل پلو د سولې عالي شورا بیا وایي چې امریکا دې نور د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرو ته زمینه برابره کړي.
د دې شورا ویاند سید احسان طاهري پرون په یوه خبري غونډه کې ویلي چې زلمی خلیلزاد دې سیمې ته خپل سفرونه کم کړي او تر هر څه وړاندې دې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو زمینه برابره کړي.
بل پلو ټاکل شوې چې د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس عمر داوودزی د سولې د خبرو په تړاو چین ته سفر وکړي. هغه به نن چهارشنبه چین ته ځي او له چینایي چارواکو سره به د افغان سولې او له افغان حکومت سره د طالبانو د مخامخ مذاکراتو په اړه بحثونه کوي. د سولې عالي شورا وایي، داوودزی غواړي د سولې په برخه کې د چین له نفوذه استفاده وکړي او په دې توگه د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې خبرو ته زمینه برابره شي.

## سرچینه: د ابوظبۍ د ناستې ځینو طالب استازو د قطر په ناسته کې گډون نه درلود



طالبانو ته څېنو نږدې سرچینو پژواک خبري اژانس ته ویلي چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې پیل شوو تازه خبرو کې، هغه طالب استازي نه وو چې د ابوظبۍ په ناسته کې یې گډون کړی و.
دا په داسې حال کې ده چې تېره میاشت د متحده عربي اماراتو په ابوظبۍ ښار کې د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ درې ورځې پرله پسې د سولې په تړاو خبرې وشوې.
دې سرچینې ویلي چې د ابوظبۍ په ناسته کې د طالبانو د مشر ملا هیبت الله اخوند له مشورې پرته، د ملا یعقوب له خوا له پاکستانه د ملا متقي په مشرۍ څلور کسیز پلاوی استول شوی و او په یاده ناسته کې یې گډون کړی. په دغه پلاوي کې د ملا متقي ترڅنگ ملا عباس، ډاکتر فقیر او قاري یحیی شامل وو چې ویل کېږي، دغه کسان د طالبانو د پخواني مشر ملا عمر د زوی ملا یعقوب او د طالبانو د بل مرستیال سراج الدین حقاني کسان وو.
سرچینې زیاتې کړې چې اوس دغه کسان د دوحې له مذاکراتي ټیمه ایستل شوي او اجازه یې نه ده ورکړې چې گډون پکې وکړي.
طالبانو ویلي چې په قطر کې د عباس ستانکزي په مشرۍ د دوی سیاسي دفتر د هر ډول خبرو اترو او مذاکراتو واک لري او څوک چې غواړي خبرې وکړي، له دوی سره به یې کوي.
خو طالبانو ته نږدې سرچینو ویلي چې مشرتابه یې ملا امیر خان متقي له هر ډول فعالیتونو منع کړی دی. دغه راز ویل کېږي چې ځینې طالب قوماندانانو د ملا متقي له استول کېدو سره هم مخالفت کړی دی.
طالبانو بیا د قطر د تازه ناسته په اړه ویلي چې دوی له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او امریکا ته پر ډاډ ورکولو چې له افغانستانه به بیا چا ته خطر نه پېښېږي، له امریکایي استازي سره خبرې کړې دي.
د قطر له دې ناستې مخکې د امریکا ځانگړي استازي څلور ورځې پرله پسې په اسلام اباد کې له پاکستاني چارواکو سره پر خبرو تېرې کړې.
ویل کېږي چې امریکا او پاکستان هڅه کوله څو په اسلام اباد کې له طالب استازو سره وگوري، خو طالبانو انکار وکړ.
طالبانو هم په اعلامیه کې ویلي وو چې په اسلام اباد کې یې له امریکایي استازي سره هېڅ خبرې نه دي کړې.

## سولې عالي شورا: محمدعمر داوودزی د افغان سولې په تړاو د خبرو لپاره نن چین ته ځي

ټاکل شوې چې د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس او د سیمه ییزې اجماع لپاره د ولسمشر استازی محمدعمر داوودزی نن چین ته سفر وکړي.
د دې شورا ویاند سید احسان طاهري تېره ورځ د یوې خبري ناستې پر مهال ویلي چې دغه سفر د دوو مهمو اهدافو لپاره ترسره کېږي.
نوموړي زیاته کړې: «لومړی دا چې موږ له چین نه د افغان سولې لپاره د یوې سیمه ییزې اجماع غوښتنه لرو چې د افغان سولې له پروسې عملي ملاتړ وکړي او په سیمه ییزه اجماع کې له افغانستان سره همغږی وي. د سفر دویمه اجنډا د پاکستان په تړاو ده چې چین پر پاکستان خپل اغېز لري او له دې لارې به طالبان مذاکراتو ته وهڅوي او هیله من یو چې ډېر ژر به د سولې په پروسه کې مهم بدلونونه راشي.»
چین ته د عمر داوودزي سفر په داسې حال کې کېږي چې تر دې وړاندې نوموړي پاکستان ته هم سفر کړی و چې د سولې عالي شورا په خبره، د افغان سولې لپاره د پاکستاني چارواکو په خبرو کې د پام وړ مثبت بدلونونه راغلي دي.
چین ته د داوودزي سفر په داسې حال کې دی چې افغان حکومت هڅه کوي، څو د سولې د خبرو لپاره د حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو اترو زمینه برابره شي.
په دې وروستیو کې د سولې هڅې تر بل هر وخت زیاتې شوې او د امریکا د متحده ایالتونو ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد په دې اړه څو ځلې له طالبانو سره خبرې کړې دي.
په ورته وخت کې ځینې سیاسي شنونکي د سولې په پروسه کې د چین رول گټور گڼي.
د دغو شنونکو له ډلې یونس فکور



ویلي، پر پاکستان د چین نفوذ ته په کتو به دا سفر گټور وي.
هغه زیاته کړې: «د دوی نظر پر پاکستاني دولت ډېر اغېز لري، خو پر طالبانو یې نه لري. تر هغه چې افغان دولت له پاکستان سره ستونزه حل نه کړي، دا ډول سفرونه به گټه ونه کړي.»
سربېره پر دې د سیمې په کچه هم د افغان سولې خبرې تودې شوې او د سیمې له هېوادونو پرته روسیې، ایران او چین هم ویلي چې د افغانانو په مشرۍ به د سولې د پروسې ملاتړ کوي.

### پر ایران د بندیزونو د لړۍ په دوام؛

# جرمني د ایران د ماهان هوایي شرکت جواز لغوه کړی دی

د جرمني د هوایي چلند اداري له خپلو اروپایي متحدینو او امریکا سره له سلا او مشورو وروسته پرېکړه کړې چې په جرمني کې د ایران د ماهان په نوم هوایي شرکت د الوتکو کېناستل منع کړي.
د جرمني د حکومت ویاند سټیفن شیبرټ په برلین کې یوه خبري کنفرانس ته په دې تړاو ویلي: «په حقیقت کې له دې انکار نه شي کېدای چې دغه شرکت به جرمني ته داسې شیان انتقال کړي چې ورسره زموږ امنیت اغېزمن کېدای شي».
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د جرمني له دغه اقدامه ستاینه کړې او د واشنگټن له نورو متحدینو یې هم وغوښتل چې ورته اقدامات وکړي.
ماهان ایر د ایران دویم لوی هوایي شرکت دی چې له ۲۰۱۱ ز کال راهیسې د امریکا په بندیزونو کې په نښه کېږي.
واشنگټن تر دې وړاندې هم له ځینو هېوادونو غوښتي وو چې د دغه شرکت الوتکو ته په خپلو هېوادونو کې د کېناستو اجازه ورنه کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د خزانې وزارت پر ځینو هېوادونو او شرکتونو په لگول شویو بندیزونو کې هم خبرداری ورکړی چې د ماهان شرکت ته د په خپلو هېوادونو کې د کېناستو اجازه نه ورکوي او نه دې هم ورته خدمات وړاندې کوي.
بلخوا ایران د امریکا متحده ایالتونه او اسرائیل تورن کړي چې هڅه کوي له اروپایي هېوادونو سره چې تر اوسه یې له تهران سره د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون د ژغورلو هڅه کړې، د دغه هېواد اړیکې زیانمنې کړي.
خو د جرمني د حکومت ویاند ویلي چې دا کار یې د خپلو امنیتي دلایلو په خاطر کړی دی.
جرمني دغه اقدام وروسته له هغې کوي چې په دې وروستیو کې یې ایران ته د جاسوسۍ په تور د یوه ۵۰ کلن افغاني‌الاصله جرمني د نیول کېدو خبر ورکړی و، خو ایران دغه تور بې اساسه بللی دی.




د جرمني د بهرنیو چارو وزارت ویاند کرستوفر برگر ویلي چې ماهان شرکت د ایران له سپاه پاسداران انقلاب سره اړیکې لري او د ایران او سوریې ترمنځ یې پوځي الوتنې ترسره کړې دي.
ایران د روسیې ترڅنگ د سوریې په جگړه کې د سوریې د ولسمشر بشارالاسد د رژیم سیاسي او پوځي ملاتړ کوي.
په دې جگړه کې سلگونه زره کسان وژل شوي او میلیونونه هم له خپلو سیمو بې ځایه شوي دي.

## د کتـــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

**درېیم څپرکی**
**پر ځان باور وکړئ**
او وېره ووژنئ




ج. مـزل مـو ۲۵٪ تېـز کـړئ. زه چـې ماشـوم وم تـر ټولـو خونـدور کار مـې بـازار تـه تګ و، مـوږ بـازار تـه نـږدې اوسـېدو، هلتـه به چـې لاړو ټـول کارونه او سـوداګانې بـه مو خلاصې کـړې، بیـا بـه چـې موټـر تـه راوختـو، مور به مـې ویل، راشـه دلتـه کېنه چـې د خلکو مزل او پـه لاره تـګ تـه وګورو.

مـور بـه مـې ښـه ملګـرې وه، مـا تـه به یـې ویل: تـه هغه سـړی وګـوره، څه شي تـه به خپه وي؟ هغـه بلـه ښـځه څـه کـوي؟ دې سـړي ته ګـوره، لکه سـپوږمـۍ کې چـې روان وي.)

مـوږ تـه د دې خلکـو دا تـګ راتګ لویـه تفریح وه، دا کار له سـینما ډېر ارزانـه و او ډېر څه تـرې زده کېـدل (وروسـته پـوه شـوم چې دا مـې د مور د یـوې لوبې د اختراع لامل شـو.)

زه تراوسـه د خلکـو مـزل تـه ګـورم. اوس هم چې خلک پـه لارو او پیاده رونو ګـورم، مزل ته یې ځیر یم او داسـې احساسـوم چې د انسـانانو په مطالعې بوخت یم.

ارواپوهان وایي: سسـتي، بې پروایي او بې ځایه ګرځېدل، د داسـې انسـان ځانګړنې دي چـې د ځـان، کار او خپلـو خلکـو پـه اړه مثبت نظـر نه لـري. ارواپوهان دا هـم وایي چې د حرکـت پـر وخـت خپل سرعت او حالت ستاسـې د نظر او لیدلوري د بدلـون لامل کېدای شي. تاسـې ورته ځیر شـئ! پوه به شـئ چې د بدن حرکت د ذهني کړنو پایله ده. اوزګار او بېـکاره خلـک هسـې ګرځـي را ګرځـي، ځکه پر ځان بـاور یې صفر وي.

د عـادي خلکـو پـه لاره تګ هم عادي وي او قدمونه یې هـم عادي وي. د دې خلکو ظاهر داسـې وي لکه ځان ته چې په چندانې ارزښت قایل نه وي.

درېیمـه ډلـه هـم شـته. دا خلـک پـر ځـان زښـت زیـات بـاوري وي. دوی په لاره لـه عادي خلکـو لـږ تېـز ځـي. تـګ یې مزل تـه ورتـه وي. له مزل یې داسـې ښـکاري لکه کـوم مهم ځـای یـا کار تـه چـې روان وي او پـه دې کار کـې به بریـالي شي.)

دغـه د پنځه ویشـت سـلنه چټکتیـا تکنیک وکاروئ، دا بـه درسره پر ځان بـاور زیاتولو کې مرسـته وکـړي. اوږې مـو لـږې شـاته کـوئ، سر جیـګ وړئ، پـه لاره لـږ تېز ځـئ او په دې توګـه پر ځـان باور احسـاس کړئ.

تاسې دا وازمایئ، پایله به یې وګورئ.

د. لـوړ او جـدي وغږېـږئ. ما داسـې ډېر خلک لیـدلي چې خبره کـولای شي، وړتیا لري، خـو بیـا هـم یـوې څنډې ته غـلي ناسـت وي او بحثونو کې برخـه نه شي اخیسـتی. دا په دې مانـا نـه ده چې دا خلـک ګنې بحثونو کې ګډون نه غواړي یا له نـورو سره اړیکې یې نـه خوښېږي، خـو د دغه ګوښـه ناسـتي لامل دا دی چې پر ځان بـاور نه لري.

دوی پـه ډلـه خلکـو کـې ځکـه غلي ناسـت وي چـې ځـان سره وایي: (ښـایي زمـا نظر به دومـره مهـم نـه وي. کـه خبرې وکړم هسـې نـه بې عزته شـم، نو ښـه دا ده چې غلی کېنم ... ښـایي د نـورو خلکـو معلومـات تـر مـا ډېر او ښـه وي، زه نه غـواړم چې نور خلـک زما پر ناپوهـۍ خبر شي.)

دا خلک چې څومره غلي وي او څومـره چې د خبـرو فرصت بایـلي، هومره بـه پکې د پخـوا پـه پرتله د کمزورۍ احسـاس پیاوړی کېـږي. زیاتره وخت له ځان سره داسـې ژمنې کـوي چې بـل وار بـه حتمـن غږېـږم، خـو د دې ژمنـو د پوره کولـو د هڅې نیت نـه لري.)

مهمـه خبـره دا ده چـې: بـې زړه انسـان چـې څومره د خبرو فرصت بایلي، دا پـه دې مانا ده چـې د ډاډ وژنـې زهـر لـه سـتوني تېـروي، پـه دې توګـه یـې پـر ځـان بـاور ورځ تر بلې کمېږي.

خـو لـه بلـې خوا، کـه دا هـر څومره لوړې خـبرې وکـړي، هومره یې پـر ځان بـاور زیاتېږي او پـه دویـم ځـل خـبرې ورتـه اسـانه کېـږي. نو لـوړې او جدي خـبرې وکړئ، دا ستاسـې پـر ځـان د باور زیاتولـو لپاره تقویتـي ویټامین دی.

ځانتـه یـو ډول اصول وټاکـئ چې له مخې بـه یې په ټولو ازادو مجلسـونو کـې وینا کوئ، خـبرې بـه مـو لـوړې او جـدي وي. پـه ټولـو سـوداګریزو کنفراسـونو، اداري ناسـتو او نورو ځایونـو کـې داوطلبانـه یـو څـه وایئ. هېـڅ اسـتثناء پکې مه منـئ، نظـر ورکـړئ، وړاندیز وکـړئ، پوښـتنې وکـړئ او پـه هـر حـال کـې خـبره وکـړئ. هڅه وکـړئ چې سـکوت مات کـړئ او هـره خـبره چـې مطـرح کېږي، تاسـې پکـې لومړۍ خـبره وکړئ.

لـه دې مـه وېرېـږئ چـې بـې معلوماتو به ښـکاره شـئ، ځکه داسـې هېڅکله نه ښـکارئ. ښـایي ځینـې خلـک لـه تاسـې سره موافـق نـه وي، خـو داسـې خلـک هـم شـته چـې له تاسـې سره موافـق وي. لـه ځانـه دا پوښـتنه ډېـره مـه کـوئ چـې: خـبرې وکړم کـه نه؟

اپوتـه، پـر دې فکـر وکـړئ چې د غونډې او مجلس اداره کوونکي باید پوه شي چې تاسـې خبرې کولای شـئ.

ه. خنـدني اوسـئ. زیاتـره خلـک وایـي چې یوې موسـکا یې حالت ښـه کړی دی. تاسـې بـه اورېـدلي وي چـې پـر ځـان د بـې بـاورۍ ناروغـۍ لپـاره یوه موسـکا تـر ټولو ښـه درمل دي، خو زیاتره خلکو ته دا مسـأله تراوسـه هم جدي نه برېښـي، ځکه تراوسـه یې د وېرې پـر وخت خنـدا نه ده تجربـه کړې.

دا طریقـه وازمایـئ. لومړی د ماتـې احسـاس وکړئ او بیا پـه کړس وخاندئ. لـه زړه خندا مـو پـر ځـان بـاور زیاتـوي. د زړه لـه کومـې خندا مـو وېـره وژنې، نارامـې ورکـوي او نهیلي لـه منځـه وړي.

**دوام لـري...**

# پردی

◀ اکسوس کتابپلورنځی


پردی یا بېگانه د مشهور او نوبل جایزې گټونکي لیکوال البر کامو مشهور اثر دی چې تازه پښتو ته ژباړل شوی دی. پښتو ژباړه یې حیات ژوند کړې ده چې پښتو بڼه یې ۱۱۹ پاڼې لري.

پردی د البر کامو مشهور ناول دی. په دغه ناول کې له ټولنې د یوه بېزاره کس کیسه راغلې ده. مرکزي کرکټر یې مورسو نومېږي، مورسو نومي کس ته ژوند بې مانا ښکاري او د چاپېریال له ټولو شیانو سره یې عاطفي او احساسي اړیکه شلولې ده. مورسو په حقیقت کې د البر کامو د فلسفي شخصیت انځور دی. په دغه داستان کې د انسان په وجود او ذهن کې د شته کشمکشونو انځورونه شوې ده. داسې یو کس چې فکر کوي انسان په دې نړۍ کې د لنډې مودې مسافر دی، راځي، څو شپې تېروي او بېرته بې له کومې لاس ته راوړنې او مزد پر نامعلوم لوري ځي. د بېگانه ناول کرکټر پر اعدام محکوم دی. علت یې ظاهراً د یوه عرب وگړي وژل دي، خو په حقیقت کې هغه پر دې تور اعدامېږي چې ولې د ټولنې له کړو وړو سره مخالفت لري، ولې یې د خپلې مور د خاورو ته سپارنې په مراسمو کې گډون نه دی کړی او ولې یې ژړلي نه دي.

د کیسې لومړۍ جمله له همدې پیلېږي، مورسو وایي، پرون مې مور مړه شوه، نه پوهېږم پرون وه، ننه وه که څه وخت، خو مور مې مړه ده، دا خبر مې یوې همکارې را لېږلی دی. نور هېڅ نه وایي، هېڅ ورته اهمیت نه لري چې باید د مور په مرگ یې وژاړي. هغه وروسته ورځې د خپلې مور د مړي اخیستو ته، هلته ټول غمگین وي، خپه وي، خو ده ته هر څه بې مانا ښکاري، عادي رفتار کوي او ان خپلې جامې هم نه بدلوي. په سبا ځي ساحل ته، له خپلې همکارې، ماري کوردنا سره ویني، هغه ورته وایي، مینه راسره لرې، دی وایي، نه پوهېږم مینه درسره لرم که نه، خو فکر نه کوم چې درباندې مین وم. په همدې شپه له دې پېغلې سره یو ځای کېږي، دا هر څه یې د مور تر مرگ یوه ورځ وروسته کېږي. سارتر پر بېگانه ناول په لیکلې سریزه کې هم دغه مسئلې ته اشاره کوي. هغه وایي، یو انسان دومره بې پروا دی چې د مور د مرگ په سبا له بېگانه نجلۍ سره جنسي اړیکه ټینگوي، حمام کوي، عادي ژوند کوي او د ټولنې شته دودونه نقدوي.

په حقیقت کې د کامو د ناول کرکټر نه غواړي له ټولنې سره گام پر گام مخکې ولاړ شي. هغه غواړي په ټولنه کې شته شیان نقد کړي، غواړي ووایي چې انسان ازاد دی، نو چې ازاد دی، ولې باید د نورو تر اغېز لاندې وي. د بېگانه ناول کرکټر غواړي ووایي چې په انساني ټولنه کې شاوخوا شته شیان مانا نه لري او دا انسانان دي چې دغو مسایلو ته مانا وربښي.

د مورسو د شخصیت کشمکش په اصل کې د کامو د شخصیت کشمکش دی. کامو د الجزایر په وچ چاپېریال کې ژوند کاوه. داسې یو ځای، چې هلته د عربو او اروپایانو فرهنگونه حاکم و. ځکه الجزایر هغه وخت د فرانسې




مستعمره و. د فرهنگونو، دینونو، مذهبونو او دودونو تعدد یا زیاتوالي د کامو په زړه کې شک پیدا کړی دی. همدا مسئله ده چې دا شیان د انسان د لاس پنځونې ورته ښکاري او وایي چې انسان چاپېریال ته مانا ورکړې، انسان دا ټاکي چې څوک باید زهر وڅښي اعدام شي او څوک باید منزلت ولري، انسان دا ټاکي چې څه په ټولنه کې سم دي او څه ناسم دی، نو ځکه یې کرکټر وایي چې زه هم یو انسان یم، زه هم غواړم ځان ته دا وټاکم چې څه سم دي او څه ناسم دي.

په ټوله کې دا ناول د یوه روحي حالت تصور انځوروي چې دغه حالت ته په ټولنپوهنه کې انومي وایي. انومي هغه حالت دی چې انسان پکې د پردیوالي احساس کوي او هېڅکله له ټولنې سره خپل احساسات نه شي شریکولای.

مینه وال کولای شي دا کتاب له اکسوس او د ښار له مشهورو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت ترلاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | رسنۍ او ټولنه | پوهندوی محمدخان نیازی | ۱۶۰؋ |
| ۲ | د اړیکو اساسات | پوهندوی محمدخان نیازی | ۲۳۰؋ |
| ۳ | کابلبانک،د دیوالي کېدو لاملونه | پوهنمل رحمن الله رسا | ۱۵۰؋ |
| ٤ | interchange essential grammar form interchnge intor to interchnge 3 cd | Afghan usad | ۱۸۰؋ |
| ٥ | بانک سوالات علوم دینی حل سوالات علوم دینی از صنف ۷ـ۱۲ | استاد عبدالرحمن درویش | ۲۰۰؋ |
| ٦ | سوالات جغرافیه صنف ۷ـ۱۲ | استاد وحید اوریا داکتر جمشید | ۱۶۰؋ |
| ۷ | سوالات بیولوژی صنف ۷ـ۱۲ | استاد وحید اوریا داکتر جمشید | ۱۵۰؋ |
| ۸ | سوالات تاریخ صنف ۷ـ۱۲ | استاد وحید اوریا داکتر جمشید | ۱٤۰؋ |
| ۹ | د کانکو بستېز لاربنود | انجینرعبدالقهار حساس | ۲۵۰؋ |
| ۱۰ | د اقتصاد بنسټونه | پوهنیار ضیا الرحمن راسخ | ۲۰۰؋ |
| ۱۱ | American English File Starter 2nd SB+WB | OXFORD | ۲۵۰؋ |
| ۱۲ | American English File 1 2nd SB+WB | | ۲۵۰؋ |
| ۱۳ | American English File 2 2nd SB+WB | | ۲۵۰؋ |
| ۱٤ | American English File 3 2nd SB+WB | | ۲۵۰؋ |
| ۱٥ | American English File 4 2nd SB+WB | | ۲۵۰؋ |
| ۱٦ | American English File 52nd SB+WB | | ۲۵۰؋ |
| ۱۷ | انگلیسي آسانه زده کړه | استاد فرشید لطیفی | ۱۰۰؋ |
| ۱۸ | اسلامی اقتصاد او بانکوالي | مفتی عبدالحق حقاني | ۲۰۰؋ |
| ۱۹ | انگلیسي په 99ورځو کې زده کړئ | سالارخادم | ۱۷۰؋ |
| ۲۰ | پردی | البرکامو | ۸۰؋ |
| ۲۱ | NO LIMIT | John c Maxwell | ۳۵۰؋ |
| ۲۲ | Essential 4000 English Words1+CD | Paul nation | ۱۳۰؋ |
| ۲۳ | Essential 4000 English Words 2+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۲٤ | Essential 4000 English Words3+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۲٥ | Essential 4000 English Words 4+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۲٦ | Essential 4000 English Words 5+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۲۷ | Essential 4000 English Words6+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۲۸ | فورم های 1397مولان | انجنیر رحمت الله | ۳۰۰؋ |
| ۲۹ | opd oxford picture dictionary | oxford | ۳۰۰؋ |
| ۳۰ | زه به ولی نه لېونی کېږم! | بخت زاده دانش | ۱۵۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ — اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۵ |
| € | ۸۵,۷۰ |
| Rp. | ۵۳٦ |
| ₹ | ۱۰٦۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٦,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# بهر ته له سفر مخکې دغه ټکي په پام کې ونیسئ

حمیدالله حمیدي

له هېواده بهر سفر کول خپله یو ډول وېره او سټرېس له ځان سره لري، هغه کسان چې دغه سفرونه یې تجربه کړي دي، دا موضوع ښه درک کولی شي. د بهرنیو هېوادونو د پروازونو له قانون او قواعدو سره نابلدتیا کولی شي دغه ډار او وهم څو برابره کړي. نو د دې لپاره چې خپل خوږ سفر مو د دغه ډار له وجې بې خونده نه کړئ، د بهرنیو سفرونو په اړه باید مخکې له مخکې یو څه معلومات تر لاسه او ځان ملا کړئ. ډاډه اوسئ که مو دغه لیکنه ولوسته، د بهرنیو سفرونو په اړه به مو هېڅ اندېښنه په زړه کې نه وي او په ډاډه زړه به د هوایي ډګر پر لورګامونه اخلئ.

**۱- پاسپورټ او ویزه**

له هېواده د سفر کولو پر مهال باید د اعتبار وړ پاسپورټ ولرئ. له اعتبار وړ څخه مو مطلب دا دی چې پاسپورټ مو باید لږ تر لږه شپږ میاشتې د اعتبار موده ولري. ډېرې هېوادونه داسې دي چې ویزې ته اړتیا نشته، ډېرې بیا اړوند هوایي ډګر ته له رسېدو سره سم ویزه ورکوي، خوډېرې هېوادونه هغه چې ستاسو په خپل هېواد کې سفارتونه او قونسلګرۍ لري، باید مخکې له مخکې یې پر خپل پاسپورټ باندې ویزه ووهل شي. زموږ سپارښتنه




دا ده چې له اصلي پاسپورټ او ویزې سر بېره د دواړو رنګه یا توره سپینه کاپي هم له ځان سره ولرئ، څو د اړتیا پر مهال بې ځایه ستړي او سرګردانه نه شئ.

**۲- ځان پوه کړئ چې څومره وزن در سره وړلای شئ**

په هر پرواز کې د بار کچه تر ډېره په هماغه هوایي شرکت پورې اړه لري چې تاسو ترې ټکټ اخیستی دی. له ۲۰ تر ۵۰ کیلو پورې معمول دي، خو بیا هم کله کله دغه څه د الوتکې تر نوعیت پورې اړوندېږي، نو د دې لپاره چې د پرواز په ورځ سرګردانه نه شئ، مخکې له مخکې یې په اړه معلومات وکړئ. که تاسو دوه کسان وی، بیا کولی شئ له ځان سره د دوو کسانو بار یوسئ.

**۳- په پرواز کې غیر مجاز وسایل او توکي وپېژنئ**

د امنیتي ملحوظاتو او د مسافرینو د هوسا او ډاډمن پرواز له کبله الوتکې ته د ځینو شیانو وړل کاملاً بند او غیر مجاز دي. نو له سفر وړاندې دغو شیانو ته پام وکړئ او په اړه یې پوره معلومات تر لاسه کړئ، هسې نه خدای مه کړه د پرواز پر مهال له جدي ستونزې سره مخ شئ.

**۴- هغه شیان چې وړل او کارول یې په الوتکه کې منعه دي:**

اور بلونکي، چاودېدونکي او نور هغه شیان چې په اسانۍ سره اور اخلي، لکه سپرې او ګاز لرونکي عطرونه، کپسولونه، ډبې، کېمیاوي سپرې، اوښکې بهونکی ګاز او نور هغه توکي چې د انسان د بې هوښۍ لامل کېږي .

اسید لرونکي شیان لکه، سرکه، د لیمو اوبه او نور...

تېره شیان لکه، چاقو، چاړه، ښېښه، قیچي، ناخون ګیر، بکس پنجه او نور...

اصلي وسله او هغه توکي چې وسلې ته ورته وي، لکه سټک، پېچ تاو، سیم او نور...

**۵- هوایي ډګر ته د تګ وخت مو باید هېر نه شي**

د کورنیو پروازونو لپاره لږ تر لږه ۲ ساعته مخکې له پرواز څخه باید ځان هوایي ډګر ته ورسوئ او لازم ټول کارونه تر سره کړئ. په کورنیو پروازونو کې ځکه باید ۲ ساعته مخکې ولاړ شئ چې کېدای شي له تاسو څخه د پاسپورټ او ویزې د چک غوښتنه ونه شي، خو که بهر ته سفر کوئ، بیا نو اړ یاست چې لږ تر لږه ۳ ساعته مخکې هوایي ډګر ته ځان ورسوئ. ځکه بهرنی سفر د چک او نورو کارونو لپاره زیات وخت ته اړتیا لري او که خدای مه کړه له سفر څخه مېس شی، د کورني سفر په پرتله زیات تاوان کوئ. څومره چې ستاسو د ټکټ بیه لوړه وي، که در څخه مېس شي، په هماغه اندازه در باندې دویم ځلي خرچ راځي. دا هغه ټکي دي چې که یې مخکې له مخکې په اړه فکر وکړئ، هغه ده چې یو ښکلی او ډاډه سفر به ولرئ.

---

## سرور دانش: سخت دریځي د افغانستان لپاره لویه ستونزه ده او باید پر وړاندې یې مبارزه وشي

د ولسمشر غني دویم مرستیال د افغانستان لپاره سخت دریځي کړکېچ بللې او ټینګار یې کړی چې که له دې پدیدې سره مبارزه ونه شي، په دغه هېواد کې به سیاسي واټن نور هم ژور شي.

نوموړي تېره ورځ د کابل پوهنتون د محصلینو په فراغت غونډه کې ویلي چې دې پدیدې افغانستان په تېرو کلونو کې د تباهۍ پر لور بېولی او اوس اړتیا ده چې د یووالي ډېره کېښودل شي او د پیوستون له لارې په هېواد کې سیاسي واټنونه ختم شي.

نوموړي زیاته کړې: «ملي یووالی او پیوستون زموږ محصلین چې د دغه پوهنتون رنګارنګ ګلونه دي، تر ټول



زیات د دې برخې مسوولیت لري. له بده مرغه نن له سیاسي واټن او ژور ټولنیز بېلوالي سره مخ شوي یو او تر هغه به موږ له سخت دریځۍ سره مخ یو چې که تاسو دا کار کوی. له هېڅا باید تمه ونه لری او د دې دوام به افغانستان د کړکېچ په لور بوځي.»

دانش په داسې حال کې محصلین پیوستون، یووالي او له قومي او ژبنیو تعصبونو لرې والي ته وهڅول چې په دې وروستیو کې دغه ستونزه په ډېرو پوهنتونونو کې محسوسه شوې ده.

وروستۍ پېښه د کابل پوهنتون په لیلیه کې د محصلینو ترمنځ وه چې ان د یو محصل د وژل کېدو او د څو نورو د ټپي کېدو لامل وګرځېده.

بلخوا د ولسمشر سلاکار او د کابل پوهنتون مشر حمیدالله فاروقي ویلي، سره له دې چې په تېرو کلونو کې په کابل پوهنتون کې کومې ستونزې موجودې وې، اوس ختمې شوې دي، خو بیا هم باید محتاطانه عمل وشي.

نوموړي زیاته کړې: «لا هم په پوهنتون کې دننه او بهر دغه ستونزې د ګډوډیو لامل ګرځېدلې، خو باید ووایو چې په کابل پوهنتون کې سخت دریځي خلاصه شوې ده او په دې وروستیو کلونو کې دغه ستونزه چې تل دغه ستر نوم ته متوجې وه، ختمه شوې، خو له پوهنتونه بهر لا هم زموږ محصلین له همدغو ستونزو سره مخ دي.»

---

## کابلوف: روسیه له خلیلزاد سره بلې ناستې ته چمتو ده

د روسي رسنیو د راپورونو له مخې د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي چې روسیه د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره بلې لیدنې ته چمتو ده.

نوموړي ویلي چې خلیلزاد ممکن د روان کال په فبروري میاشت کې له روسیې لیدنه وکړي. کابلوف زیاته کړې چې که خلیلزاد چمتو وي، دوی د دې لیدنې لپاره ټولې اسانتیاوې برابرې کړې او لازم چمتووالی لري. کابلوف که څه هم په دې لیدنه کې د خلیلزاد خوښې ته لومړیتوب ورکړی دی، خو




زیاته کړې یې ده چې ممکن خلیلزاد د فبروري میاشتې تر وروستیو پورې مسکو ته ورشي. هغه د دې لیدنې موخه د افغان سولې په برخه کې له امریکا سره همکاري ښودلې او ویلي یې دي، دوی د افغان سولې په برخه کې هر راز اسانتیا برابرولو ته چمتو دي.

دا په داسې حال کې ده چې خلیلزاد تېرې دوې ورځې په قطر کې له طالب استازو سره د څلورم ځل لپاره پر افغان سوله خبرې وکړې. که څه هم د یادې لیدنې بشپړ جزیات نه دي خپاره شوي، خو طالبانو ویلي چې له امریکایي پلاوي سره یې په دې لیدنه کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو خبرې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د افغان سولې لپاره په سیمه ییزه او نړیواله کچه هڅې تر بل هر وخت زیاتې شوې دي. ښې بېلګې یې روانه تېره میاشت کې ایران او د سیمې نورو هېوادونو ته د طالب استازو تګ او په روانه اونۍ کې پاکستان ته د امریکایي چارواکو تلل او له پاکستاني چارواکو سره پر افغان سوله غږېدل په ګوته کولی شو.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې دربیمه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۳مه | دویم کال |۳۲۳مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۲ | ۱۱ | ۱۰ | ۱۳ | ۱۰ |
| -۱۲ | -۳ | -۳ | -۲ | ۰ | -۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۴۵ | لمر ختل ۰۷:۱۰ | ماسپښین ۱۲:۲۲ | مازیګر ۰۳:۵۶ | ماښام ۰۵:۳٤ | ماخوستن ۰۷:۰۰

## نړۍ



پر ایران د بندیزونو د لړۍ په دوام؛

# جرمني د ایران د ماهان هوایي شرکت جواز لغوه کړی دی

۳

# نامزدان معترض کابل خواهان ابطال آرا و محاکمه اعضای کمیسیون شدند



شماری از نامزدان معترض ولایت کابل با راه اندازی تظاهرات، دروازه‌های شهر کابل را برای چند ساعت به روی رفت و آمد بسته کرده بودند.

آنان خواهان باطل سازی آرای کابل شدند و از حکومت خواست تا مقام‌های این کمیسیون را به نهادهای عدلی و قضایی معرفی کند.

اعتراض کننده‌گان اعضای کمیسیون مستقل انتخابات، رئیس کمیسیون انتخابات و رئیس ساحه یی پیشین کمیسیون مستقل انتخابات را به تقلب‌های گسترده متهم می‌سازند.

فضل من الله ممتاز، نامزد انتخابات، گفت: «ما به این عدالت خواهی امروز قیام کردیم تا زمانی که رای کابل ابطال نشود، ما در سرتا سر افغانستان این تظاهرات را ادامه می‌دهیم».

سیف الرحمان حبیبی، نماینده احزاب سیاسی، گفت: «کسانی که ما می‌گوییم رئیس کابل اول الرحمان رود وال است که در حق مردم کابل خیانت بزرگ را متوجه ساخته، بعد رهبری کمیسیون انتخابات به غیر از خانم ملیحه حسن و زمان‌زی رئیس دارالانشا است».

داوود کلکانی، نامزد معترض انتخابات ولسی جرگه، گفت: «از رئیس جمهور می‌خواهیم که اعضای کمیسیون مستقل انتخابات را به نهادهای عدلی و قضایی معرفی نماید، نتایج انتخابات کابل را باطل اعلام کند و انتخابات ریاست جمهوری را با کمیسیون نو برگذار نماید».


اعتراض کننده‌گان می‌گویند که نتیجه انتخابات کابل را نمی‌پذیرند و انتخابات کابل باید با انتخابات ریاست جمهوری در سال آینده برگذار شود.

در همین حال، عبدالبدیع صیاد، رئیس کمیسیون انتخابات می گوید که نامزدان معترض باید به جای تظاهرات و بستن جاده‌ها، به کمیسیون انتخابات و کمیسیون رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی مراجعه کنند.

صیاد گفت: «حق خود را از راه‌های قانونی بخواهند؛ با بستن راه‌ها و دروازه‌ها مورد آزار و اذیت مردم نشوند».

امریکا او کاناډا ته د چین خبرداری؛

# مېنګ وانژو له هر ډول شرط پرته ژر خوشې کړئ



چین؛ امریکا او کاناډا ته خبرداری ورکړی چې له ځنډ پرته د دغه هېواد د هواوې شرکت د مالي برخې مسووله مېنګ وانژو خوشې کړي، کنه په ورته اقداماتو به لاس پورې کړو. د هواوې شرکت مالي مسووله مېنګ وانژو د تېر زېږدیز کال د ډسمبر په لومړۍ د امریکا په غوښتنه په کاناډا کې ونیول شوه چې لاهم په دغه هېواد کې بندي ده. په نوموړې تور دی چې پر ایران د امریکا له بندیزونو څخه یې سرغړونه کړې او پټه یې پر دغه هېواد د هواوې شرکت تولیدات پلورلي دي.

خو رویټرز تازه د کاناډایي چارواکو له خولې ویلي چې امریکا له دوی څخه د وانژو د ورسپارلو غوښتنه کړې ده، چې دوی په دې تړاو تر اوسه وروستی تصمیم نه دی نیولی.

د راپورونو له مخې، که په نوموړې یاد تورونه ثابت شي، کېدای شي په ۳۰ کاله بند محکومه شي.

بلخوا د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاندې هوا چونیانګ خبرداری ورکړی، که کاناډا نوموړې امریکا ته وسپاري، پکن به یې پر وړاندې جدي اقدامات وکړي. نوموړې ویلي: «هر څوک باید خپل مسوولیت په خپله غاړه واخلي. امریکا او کاناډا باید پر دې وپوهېږي چې دغه څه د چین لپاره مهم دي او ژر تر ژره دې خپلو غلطیو ته متوجه شي».

نوموړې دغه راز ویلي چې امریکا ته د وانژو سپارل د مجرمینو د سپارلو له تړونه سرغړونه ده او امریکا باید له خپل اوسني دریځ څخه په شا شي.

# په بلوچستان کې په یوه ترافیکي پېښه کې ۲۷ کسان وژل شوي دي



په بلوچستان ایالت کې د کوټې-کراچۍ پر لویه لار د موټرو د ټکر له امله خونړۍ پېښه رامنځته شوې ده. دا پېښه ورمه شپه ناوخته د بلوچستان په لسبیلا سیمه کې هغه وخت رامنځته شوه چې له کراچۍ نه د بلوچستان پنجګور سیمې ته روان مسافر وړونکی موټر د تېلو له یو ټانکر سره ټکر وکړ.


د چارواکو په خبره، په یاده پېښه کې لږ تر لږه ۲۷کسان وژل شوي دي. د پولیسو یوه چارواکي شبیر مینګل د پېښې په ځای کې رسنیو ته ویلي چې د بس او ټانکر موټر د ټکر له امله په بس کې اور لګېدلی او درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

د نوموړي په خبره، په دغه بس کې ټولټال ۳٦کسان سپاره وو چې یوازې ۱۰ تنه یې ټپیان او نور ټول مړه شوي دي. هغه ونه ویل چې په پېښه کې ښځې او ماشومان هم وو او کنه، خو زیاته کړې یې ده چې ټپیان روغتون ته لېږدول شوي او د بلوچستان په ایمرجنسي روغتون کې بېړنی حالت اعلان شوی دی. هغه دغه راز ویلي چې د پېښې په اړه څېړنې پیل شوې دي.

په بلوچستان کې هر کال د موټرو د ټکر په پېښو کې خلکو ته درنه مرګ ژوبله اوړي.

## ژوند

# ځان ته مو ډېره پاملرنه وکړئ



تر هرڅه وړاندې د خپل ځان په اړه فکر وکړئ چې کومې ښېګڼې لري؟ د لا زیاتوالي لپاره یې څه کول پکار دي؟ له دغو ښېګڼو څخه خپلې موخې ته د رسېدو لپاره څنګه ګټه اخیستلای شئ؟ کومې نیمګړتیاوې او کمی لري؟ د دغو نیمګړتیاوو لاملونه څه دي او څنګه کولای شی له منځه یې یوسی؟ یوازې تاسې خپله یاست چې ځان ته مشوره ورکړی

د ستونزو په وخت کې لومړی خپل ځان ته رجوع وکړئ، هر ستونزه به مو په خپل وار سره حل شي، په مخ کې هر خنډ به مو له منځه ولاړ شي او د بریاوو دروازې به مو یو پر بل پسې پر مخ پرانیستل شي. ستاسې په وجود کې دغه الهي قوه هېڅکله هم تاسې ته داسې څه نه درکوي چې ستاسې او د نورو د ځور لامل وګرځي، د ځان په اړه ستاسې په ذهن کې ټولې سالمې مشورې ستاسې په ګټه دي.

یوازې تاسې خپله یاست چې له ځان سره مرسته کولای شی

همدا تاسې یاست چې موخې ته د رسېدو لپاره په مخ کې پراته خنډونه له منځه وړلای شی.

# مستې مو ښکلې او روغ ساتي



مستې که هر وخت وخوړل شي، ګټې یې ډېرې دي. د سهار د چایو پر ځای د مستو او نورو مېوو خوړل د دې لامل کېږي، څو د غرمې تر ډوډۍ پورې د نورې اضافي غذا له خوړلو ځان وژغورئ.

زموږ په ټولنه کې معمول دا ده چې مېوه له ډوډۍ وروسته خورو، خو طبي څېړونکو دا ثابته کړې ده، هغه کسان چې تر ډوډۍ مخکې مېوه خوري، مناسب اندام لري. د مستو خوړل په ټوله کې ګټور دي، خو که د سهار د چای پر ځای وخوړل شي، ګټه به یې دا وي چې وجود مو د ناروغیو پر وړاندې مقاومت پیدا کوي.

مستې په خپل ترکیب کې په ډېره اندازه پروټین او ویټامین (بي) لري. څېړنو ښودلې چې په یو ګیلاس مستو کې ۱۵۵ کالوري انرژي، ۱۳ ګرامه پروټین، ۱۲ ګرامه کاربوهایدریت او ۳،۸ ګرامه غوړ موجود دي. دغه راز مستې په خپل ترکیب کې په زیاته کچه کلیسم، مګنیزیم او پوټاشیم هم لري چې د بدن د ضرورت وړ موادو له ډلې څخه شمېرل کېږي. که غواړئ صاف پوستکی ولرئ او څېره مو ورځ تر بلې ښکلې شي، نو په خپلو خوړو کې مستو ته حتماً ځای ورکړی.